# هوپو تعلیمي کیسی

## *تاوونکی فاطمه او کیږدۍ*

## کاغذي پاکټونو نانځکه





پر لاس د خلتی/ پاکټ راکاږلو سره، د نانځکې خوله وخوځوئ.

**مواد چې اړتیا به ورته ولرئ:**
غرمی ډوډۍ اندازه کاغذي پاکټ، رنګه پنسلونه، کرایون (د موم رنګی)، مارکر، ځلیبش، نښلوونکي خپروونکی، رنګه جوړښتي کاغذ یا کارتونه، سکاش ټیپ، کیچی، سټیپلر، د میزونو لپاره اخبار.
**اختیاري:** کاغذي دستمال، راتاوونکی کاغذ، د سودا پخوانۍ خلتی، پاپیونو پاکوونکي، تاوونکی، مرۍ (مشکنۍ)، تنۍ، د ټوټو چنډی، د ویښتو لپاره تارونه، پلاستیکي سترګی، او نور



د ویښتو لپاره تارونه



۱. د پاکټ (خولې بندوونکي) رپاندي پوښ په اندازه کارت یا جوړښتي پاڼه راواخلئ، د فاطمی مخ پاسنۍ برخه (سترګی، باڼه، غومبوري/ اننګۍ او پوزه) رنګه کړئ. یا، پر پلاستیکي سترګو، رنګه کاغذي سترګو او غومبوري او نورو یې ځلیبش کړئ. کله چې رسامۍ وچی شي مخ راپرې کړئ.



۲. د جوړښتي کاغذ یوه بله ټوټه د هغې د سر جامی لپاره رسامي او پرې کړئ (باوري کړئ چې د هغې سر پر پاسنۍ برخه برابره شي). له جوړښتي کاغذ د سر ښکلی پټۍ پرې او سینګار کړئ. له جوړښتي کاغذ یا تار څخه ویښته جوړ او پر کوچنۍ فیته یې ټینګ کړئ. ټولی ټوټی سره یوځای ځلیبش او وچیدو ته یې پریږدئ، پداسې حال کې چې تاسې د هغې جامی جوړوئ.

۳. د جامو لپاره نور شکلونه پرې کړئ، د کاغذي خلتی له اندازې سره یې برابر کړئ. له خوښې سره سم یې د ټوټو، تاویدونکي کاغذ، زریو، مشکنو، تنیو او نورو پر ورډېرولو سینګار کړئ. ټوټی سره یوځای ځلیبش یا رابرټیپ کړئ، پام مو وي چې لاسونه د "چپنی" لوستوڼو لاندی وي. دا ټوټه پریږدئ چې وچه شي، پداسې حال کې چې تاسې مخ د خلتی پر رپانده کاغذ ځلیبسوئ.
کله چې تنه وچه شي، ټوله ټوټه د بکس مخی ته ځلیبش، ټیپ یا سټپلر کړئ (پام مو وي چې خلته بنده نه کړئ).



څرخه او د تار غونډسکه (د تار پر ټوټه یې ځلیبش کړئ چې اصل معلوم شي)

**د نانځکو ډرامی/ تیاتر نظرونه/ مفکوری**

- پر میز سرمیزي یا ټوټه واچوئ او زده کوونکي د میز لاندې کښیني او خپلې نانځکې د ټوټې له لاندې راباسي او غږیږي.
- (د برقي سامانونو کارتنونو په څېر) لوی کارتن مخ کې څلور کنجه کړکۍ ورکړئ، او "سټیج" دروازه شاته ورکړئ. یو یا دوه زده کوونکي په کارتن کې کینوئ تر څو خپله ډرامه/ تیاتر وړاندې کړي.
- یو بل ته مخامخ چوکۍ کیږدئ، او له زده کوونکو وغواړئ مخامخ کیني او خپلې ډرامی اجرا کړي. دا نانځکی د ډرامی په مرکز یا زیرمه ځای کې وساتئ تر څو هر وخت چې اړتیا وي، لاسرسی ورته وشي.

د نانځکو او توکو په اړه نورو مفکورو لپاره، راتلونکی پاڼه وګورئ.

تاوونکی فاطمه او کیږدۍ د آدریس شاه لیکنه، د نتاشا دیلمر رسامي، ۲۰۰۲ کال چاپ حقوق

۴. د رپانده کاغذ لاندی د سری ژبې پر رسامۍ یا ځلیښولو کار ختم کړئ. نور توکي لکه د فاطمی څرخه او تار او نور وسایل، رسم او پرې کړئ. دا توکي د لوبی له اړتیا سره سم ځلیښیدای، ټیپ یا کاغذ سنجاق په مرسته نښلول کیدای شي.  له استعمال وړاندی نانځکی وچیدو ته پرېږدئ. ځیني وخت د ټینګولو او ثبات لپاره لږ اضافي ځلیښو یا سټپلر سنجاق ته اړتیا وي. **ښه وخت ولرئ!**





د فاطمی پلار

باچا







چینایي میرمن



شهزاده

**نور لوبغاړي:** د کیسې له نورو تورو رسم کړئ. عکسونه د کارتونو پر مخ ځلیښ او پرې یې کړئ. ټوټې د کاغذي خلتو رپانده کاغذ دپاسه ځلیښ کړئ.

**لښتو نانځکی:** رسامي، سینګار، او ځناور، کښتئ، بحري سفر او نور توکي پرې کړئ. پنسلونه یا لښتې د پری شویو شاته ټیپ او حرکت لپاره یې وخوځوئ.